AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۵/۰۹/۲۶

# د افغان وطن په شان یم، له جنګونو پرېشان یم

رانه پټ یې را ښکاره شه، د رنګونو په غبار کې
د رڼو اوبو همرنګه، د ګلونو په قطار کې

د بل چا نه یمه ستا یم، ماته غږ وکړه چې دا یم
په ټپو په یکه زار کې، د بلبلو په چغار کې

رانه ورکه لولکی ده، اخ پسته جنت کوکی ده
را پیدا یې کړه له غیبه، د صحرا په لاله زار کې

زرغون شال به شمه تاته، زرغون ټال به شمه تاته
زنګوم دې زنګوم دې، په سنځله په چینار کې

جار مطربې درنه جار شم، کاشکې زه دې سندرمار شم
ته نغمه نغمه شرنګېږې، په تارونو د ستار کې

د افغان وطن په شان یم، له جنګونو پرېشان یم
قصیدې د امن وایم، د حرم په جګ منار کې

اې فریاد او ځوړ مې واورئ، نړیوالو غږ مې واورئ
ګورئ پښې یبلې روان یم، په سکروټو په انګار کې

ستا لمنه نیسم ربه، یا حبیبه لرم تبه
طبیبانو یم شړلی، شمار یې نه یمه په شمار کې

زړه مې تاته در مایل دی، جوړ مې تا لره امېل دی
مرغلرې مې پیېلې، د کاروان د زړه په تار کې

پیرمحمد کاروان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ